**بسم الله الرحمن الرحيم**

## کار کول ویاړ او افتخار دی

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ وَسَتُرَدُّونَ إِلَى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ»** ژباړه: **« او [اې پيغمبره (ص)!] دوی ته ووايه: «تاسي عمل کوئ! الله، د هغه پيغمبر او مؤمنان ټول به وګوري چې ستاسي کړه وړه اوس څه دي. بيا به تاسي د هغه ذات لوري ته ور وګرځول شئ، چې په پټو او ښکاره ؤ هر څه باندي پوهيږي او هغه به تاسي ته در وښيي چې تاسي څه کول.»**، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

اسلام مبارک دين کارکولو ته يو ډيره پراخه نظريه لري او ديته يی ډير په لوړ شان باندي کتلي دي دا د ترقی او د پرمختګ يوه لاره ده څوک چې په قرآنکريم کې فکر وکړي وبه ګوري چې پدې کې په ښکاره ډول سره د ځمکي د آبادي لپاره غوښتنه شوي ده ترڅو د ټولي دنيا لپاره خير او ښيګڼي ترسره شي الله جل جلاله فرمايي:« هُوَ أَنْشَأَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا» ژباړه:« هماغه ذات دی چې تاسي يې له ځمکي څخه پيدا کړي ياست او دلته يې تاسي مېشته کړي ياست.» او په بل ځاي کې فرمايي:« هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ» ژباړه:« هغه ذات دی چې ستاسي لپاره يې ځمکه پسته هواره او تابع کړېده، د هغې پر سينه باندي ګرځئ او د خدای روزي خورئ، د هماغه حضور ته ستاسي په دوهم ځل ژوندي کېدو سره ورتګ دی.»او بيا فرمايي:« فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيراً لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ» ژباړه:« بيا کله چې لمونځ تر سره شي، نو په ځمکه کښي خواره شئ او د الله فضل ولټوئ. او د الله ډېر ډېر يادوونکي اوسئ. ښايي چې تاسي ته برى په برخه شي.»»، کار کول ډير اهميت لري ځکه چې په هغه باندي د لمانځه څخه وروسته په مستقيمه توګه سره امر شوی دي او عراک بن مالک رضي الله عنه به چې کله د جمعی لمونځ وکو نو د جومات په دروازي که به ودريدو او دغه دعاء به يی ويله چې اي الله ما ستاسو غوښتنه قبوله کړه او لمونځ چې په ما باندي فرض وو ترسره کړ او د لمانځه څخه وروسته لکه څنګه چې تا امر کړی دی نو خپريږو نو پخپل فضيلت سره ماته رزق راکړه ته غوره روزي ورکوونکي يی.

همدارنګه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په احاديثو کي هم کار کولو ته دغوت شوي دي او همدارنګه ټينکار شويدي چې پدې کې جديت رامنځته شي ځکه دا د انسان لپاره يو وياړ دی چې د هغه کرامت ساتي لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په ترلاسه کيدونکي شيانو کې غوره هغه څه دي چې يو څه ويلوري او د هغه ګټه ترلاسه کړي او د هغه ترځنګ د سړي کار دادی چې پخپل لاس ترسره کړي او همدارنګه نبي کريم صلی الله

ليه وسلم فرمايلي دي چې كه يو څوک په تاسو كې د خاشاكو يو ګيډي په شا وګرځوي دا د دی لپاره غوره ده ددی څخه چې له چا څخه سوال وکړي چې هغه به یا ورکوي او یا به نه ورکوي او سفيان سوري رحمه الله هم يوه ورځ په خلكو باندي تيريدو چې هغوي په مسجد حرم كې ناست وو ورته يې ويل چې تاسو د شه لپاره ناست ياست هغوي وويل نو څه وكړو؟ هغه ورته وويل چې د الله جل جلاله فضل وغواړي او په مسلمانانو باندي بوج مه جوړيږي، همدارنګه عمر رضي الله عنه فرمايلي دي چې يو څوک د دروزي په تمه باندي نه کينی او دا د نه وايی چې يا الله ماته روزي راكړي پدي باندي تاسي پوه شي چې د اسمان څخه سره زر او سپين زر نه وريږي بايد تاسی كار وكړي.

د كار كولو اهميت او وياړ ډير زيات دی او انبياؤ ټولو پخپلو لاسونو باندي کارونه ترسره كړي دي لكه چې نبي كريم صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې داود عليه السلام به د خپل لاس خواړه خوړل او ذكريا عليه السلام نجار وو او نبي كريم صلی الله علیه وسلم پخپله كار كولو او د خپل كورنۍ خدمت به يې كولو عايشه رضي الله عنها فرمايي: چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم به خپل كالي پخپله ګنډل همدارنګه نبي كريم صلی الله عليه وسلم له مونږ څخه غوښتنه كړي ده چې تر آخره لحظي پوري كار وكړو لكه څنګه چې نبي كريم صلی الله عليه فرمايلي دي كه چيرته قيامت راشي او په تاسو كې د چا په لاس يو بوټي وي او كه چيرته هغه توان ددی ولري نو هغه د وكري.

او د كار كولو اهميت ډير زيات دي ځكه چې اسلامي شريعت هغه څوک چې د خپل ژوند او همدارنګه د خپل اولادونو لپاره ګټه كوي نو هغه ته يې د شهيد اجر وركړي دي قرآنكريم د كار او د حق په لاره كې د قرباني ترمنځ ربط وركړي دي لكه چې الله جل جلاله فرمايي:«وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» ژباړه:« ځيني نور خلك د الله د فضل په لټه كښي سفر كوي او ځني نور خلك د الله په لاره كښي جنګيږي،» همدارنګه نبي كريم صلی الله عليه وسلم هم پدي هكله بيلابيل احاديث ذكر كړي دي چې ټول پدی باندي ټينګار كوي چې بايد كار ترسره شي او همدارنګه سوال ونشي او د خپلي كورني لپاره نفقه بايد پخپل لاس پيدا شي.

****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونكی دی، او زه ګواهي وركوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي وركوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او بركت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيكی سره د هغه تابعداري كوي.

د اسلام مبارک دين يواځي لمونږ څخه ددی غوښتنه نده كړي چې كار وكړو بلكي ددی ترڅنګ مونږ يی ديته هڅولي يو چې بايد په ښه ډول كار ترسره كړو او د الله جل جلاله رضايت پكي ولټوو الله جل جلاله لمونږ سره وعده كړي ده چې څوک په ښه ډول سره كار ترسره كړي نو لوي اجر به وركوي لكه چې الله جل جلاله فرمايي:« إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا» ژباړه:« پاتي شول هغه كسان چې ويې مني

(ایمان راوړي) او ښه عملونه وکړي، نو دا یقیني ده چې موږ د نېکوکارانو اجر نه ضایع کوو.» همدارنګه په ښه ډول سره کار ترسره کول د هغه چارو څخه دی چې الله جل جلاله خوښوي لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدې هکله فرمایلي دي: یقینا الله جل جلاله دا خوښوي چې په تاوس کې یو څوک کار وکړي او په ښه ډول ترسره کړي.

نو د کار ترسره کول یو مسئولیت دي چې د هر انسان په غاړه کې پریوزي او الله جل جلاله له لوري انسان څارل کیږي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا» ژباړه:« باور ولرئ چې الله پر تاسي څارونکی دی.» او بیا فرمايي:« وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ وَلا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَبِّكَ مِنْ مِثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلا فِي السَّمَاءِ وَلا أَصْغَرَ مِنْ ذَلِكَ وَلا أَكْبَرَ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ» ژباړه:« [اې پېغمبره (ص)!] ته چې په هر حالت کښي اوسې او له قُرآن څخه چې هر څه اوري، او اې خلکو تاسي هم چې څه کوئ؛ د هغو ټولو په دوران کښي موږ تاسي ګورو. هیڅ د یو بڅري په اندازه شی په اسمان او ځمکه کښي داسي نشته، نه وړوکی نه غټ، چې ستا د پروردګار له نظره پټ وي او په یو روښانه کتاب کښي (لیکل شوی) نه وي.» او کله چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه د احسان په هکله پوښتنه وشوه نو هغه وفرمایل: چې خیر او ښیګڼه او احسان دادی چې د الله جل جلاله عبادت پداسی دلو سره وکړي چې ګویا ته هغه ګوري که چیرته ته هغه نه ګوري نو الله جل جلاله خو تا ګوري.

**الله جل جلاله د مونږ ته توفیق راکړي چې د خیر او ښیګڼي کارونه ترسره کړو او الله د ګران مصر او د نړۍ ټول هیوادونه په امن او امان کې وساتي**